عبدالغفور لیوال

۲۰۲۴/۰۸/۰۹

# عرفان او د محرومیت پیر - مریدي

له یوې مودې راپه دېخوا، هلته ودلته، د مرموزو پیرانو ظهور له یوهبرخه خلکو سره اندېښنې او بحثونه راپارولي. د بېخبره او ساده کلیوالو اخلاص ته د خرافاتو او اوهامپرستی په سترګه ګوري او پیران استخباراتي ځري یا د خلکو له سادګی څخه ناوړه ګټهاخیستونکي ګڼي.

ولې داسې کیږي؟

د عرفان حقیقت:

عرفان د عَرَفَ له ریښې، پېژندلو ته وایي. تر ټولو ساده پېژاند یې د انساني عقل و تفکر په مرسته د ښتن او نړۍ پېژندنه ده. خورا لرغونیو انسانانو هڅه کوله هستي، مادي نړۍ او هغه پر ټولو برځواک وپېژني، چې دا هرڅه یې هست کړي دي.

عرفان په بېلابېلو تاریخي زمانو کې د انسانانو د تفکر او تجربو په مټ د استدلال و نفی و اثبات له پړاوونو تېر شوی او د بېلابېلو ادیانو له عقیدوي متونو یې رنګ اخیستی.

اسلامي عرفان د اسلامي نصوصو، کلام او حکمت له مخې د خدای پېژندنې هڅه ده. د اسلامي عرفان لارویان یې صوفیان او د دوی مسلک یې تصوف ګڼل.

د تصوف تر ټولو لوی باور دا و، چې د انسان نفسي و مادي غوښتنې یا په دغو غوښتنو کې د افراط تر بریده ورکېدل د انسان او خدای پېژندنې ترمنځ خنډ دی او هرڅوک چې دغه توره پرته د خپل زړه له سترګو لرې کړي، نو د خدای وجود و حضور به په مانا کې ولیدلای شي، میرزاخان انصاري وایي:

اوس له نفسه سره جنګ درلره بهِ دی
نه چې برخه دي خواري شي جاودانه

بنایي په نړۍ کې نور عرفاني مکتبونه هم له دې ستونزې سره مخامخ شوي وي، خو د افغانانو په تاریخ کې روښانې مکتب د مغولو او بیا راروسته د پیرمریدیو مسلک د انګریزانو د سیاسي، استعماري او استخباراتي دسیسو ښکار شو، چې ژوره او ریښهیي اغېز یې تر نن پورې شته.

سیاسي کړای شوي پیر مریدي د عرفان د وجودي فیلوسوفي پرعکس له نفسي غوښتنو څخه سرچینه اخلي. پیران غوارې خپل مریدان وزبېښي. دا یې د ګټې وټې او رفاه په کسب و کار بدل کړی. قلنګونه اخلي، په نذرانه کې پېغلې نجونې ورودوي، د خلکو په درمندونو، رمو او بیوزله ګټې وټې کې خپله برخه غواړي.

د مریدانو توقعات هم مادي دي. دوی ډارېږي، که د پیر زړه ازار شي، نو دوی ته به تاوان پېښ شي، باغونه به مرض وکړي، رمې به لیوان وخوري یا به یې ناروغی ووژني، فصلونه به ملخان سرکپ کړي او سیلاو یا زلزله به پېښه شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دا د عرفان او اسلامي تصوف کيسه نه، بلکي د محروميت پيرمريدي ده.

د محروميت او ناخبرۍ پير مريدي څه ده؟

افغانستان هرځای روغتون و ډاکتر و درمل نه لرل، ځکه به د کليو خلکو د پيرانو د لاس مينځلو اوبه له چيلمچيو څخه په بوتلونو کي زنځولي او بيا به يي سر وکال په ناروغانو څښلي، چې روغ شي. دا عقيده د محروميت و مجبوريت انتها وه. کليوالو څه کړي وای؟

دا يي يو مثال دی، داسي بېلګي په زرګونو دي. حکومتونو او روڼانديو د خلکو په روښانولو، وينولو او پوهولو کي هڅه نه کوله، خلک له پوهي محروم وو او پيرانو د خلکو په خرافاتي باورونو کي پانګونه کوله او د خلکو له بېخبرۍ يي شاهانه ژوند کاوه.

او لا يي هم دلته وهلته کوي.

په هغو ښارونو کي چي څه ناڅه ګټه وټه شته، روغتون و ډاکتر و درمل شته، هلته د پير اړتيا نه‌شته. مريدان هم نه‌شته. د محروميت پيرمريدي ان ښارونو ته په نږدې کليوالو سيمو کي هم نه‌شته، يوازې په لرې پرتو، محروميت ځپلو او خرافاتوهليو سيمو کي شته.

ماړه، هوسا، لوستي او روښانه انسانان خپلواکی ته رسېدلي انسانان وي. دوی د خرافاتو او استعماري عقيدو له زنځيرونو ځان خلاصوي.

پيرانو ته بد رد ويل او بېوزلي و محروم خلک ملامتول او مسخري ورپوري کول حللاره نه ده. هغوی مو تکفيروي او بې‌عقيدې مو بولي.

بنستي حللاره مدنيت خپرول دي، پوهه عامول دي، روښانتيا راوستل دي. خدمات، اقتصادي وده او رفاه د مدنيت بنستونه دي.

روښانتيا خپرول، وينتيا ته کار کول او د خلکو په باورونو کي انسانمحوره عقلاني بدلون راوستل زمونږ تولنه ژغورلای شي.

بدمرغي دا ده، چي ښکېلاکي دوښمن په ۲۱ مه پېړۍ کي د ۱۸ مي و ۱۹ مي پېړيو ښکېلاکي ابزار کاروي .
نه خلک ملامت دي، نه دوښمن. ملامت هغوی دي، چي روښانتيا و وينتيا خپرولای شي، خو غلي ناست دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ